سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۹/۰۵

# گـــــــزاره

اغـزو سـره که کړیـده ، ګلـونـو ګـزاره

مونږ هم کړی همداسی، په کلونـو ګزاره

کشتی چی په توفان، د سمندرکی ده روانه

همداسـی ده غـمو سره، د زړونـو ګزاره

تاریخ په دی شاهد دی په پیریو په پیریو

ظلمونـو سره کړیـده، ولسونـو ګزاره

نه چارا بیرته کړي، نه یی لوستي دي یوځل

ده کړی قفسـچو کی ، کتابـونـو ګـزاره

په نـن او په سبا کی، د بدلون په تمه تمه

د اور لمبو کی ده، د اُمیـدونـو ګـزاره

ترڅو به "کلیوالو"، ورکوی ځانته دوکي

را پاڅئ نوره نشـی ، په خوبـونـو ګزاره

می/۲۵/ ۲۰۱۴

تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

گـــزاره
kliwal_s_٤٥_gozaara.pdf